22 January 2026

# د الله د ذِکر
# 40 فائدې



(For Islamic Brothers) هفته وار د سُنّتونو ډکه اجتماع کښې کېدونکے د سُنّتونو ډک بیان

پۀ 22 جنورى، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 2 شعبان شريف، کال 1447ھ) د
پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

پۀ نوم

# د الله د ذِکر 40 فائدې

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ــــ د شعبان مياشت د نوي عملي کال مياشت
- ــــ د اُمت مسلمه خصوصي شان
- ــــ پۀ سَرونو يې تور کارغان ناست وو (واقعه)
- ــــ د ذِکرُ الله 40 فائدې

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کَثْرَةُ الذِّکْرِ وَ الصَّلَاةُ عَلَیَّ تَنْفِی الْفَقْرَ ترجمه: پۀ كثرت سره د الله پاک ذِكر كول او پۀ ما باندې دُرُودو شريف لوستل غريبي ختموي۔ (1)

اَلسَّلَام اے بادشاہِ دو جہاں! اَلسَّلَام اے سرورِ کون و مکاں!
اَلسَّلَام اے نورِ ایماں اَلسَّلَام اَلسَّلَام اے راحتِ جاں اَلسَّلَام
مانگتے پھرتے ہیں سلطان و امیر رات دن پھیری لگاتے ہیں فقیر
غمزدوں کو آپ کر دیتے ہیں شاد سب کو مل جاتی ہے منہ مانگی مراد
کیجیے رحمت حسنؔ پر کیجیے دونوں عالم کی مرادیں دیجیے (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... القول البديع، صفحہ:135-

2... ذوقِ نعت، صفحہ:294- 299 ملتقطاً-

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے-[(1)]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❖ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❖ پهٔ اَدب به کښينم ❖ ښه پهٔ توجُّه به بيان اورم ❖ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مخکښې کيدونکي څوک---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حضرت مُعَاذ بن جبل رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عظيم الشان صحابئ رسول دے، د دومره لوئي شان مالِک دے چې يوه ورځ رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته وفرمائيل: يَا مُعَاذُ اِنِّيْ اُحِبُّکَ يعنې اے مُعَاذه! بے شکه زهٔ ضرور ستا سره محبت کووم-[(2)]

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے--!! مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي :

الله کا محبوب بنے جو تجھے چاہے | اس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو...!! [(3)]

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 -

2... عمل اليوم و الليل لابن السنی، صفحه:91، حديث:118-

3...ذوقِ نعت، صفحه:206-

**وضاحت:** يعنې يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک چې ستاسو سره محبت شروع کړي، الله پاک هغه خپل محبوب جوړ کړي، دا شان خو د محبت کوونکو دے، بيا هُغه خوش قِسمته د کوم سره چې تاسو محبت وفرمايې--!! د هغهٔ شان به څومره اعلیٰ وي--!!

د حضرت مُعَاذ بن جبل رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فيضان مونډلو ډيرې موقعې نصيب شوې- پهٔ هغې کښې ډير واقعات هغوئي پخپله هم بيان کړې- پهٔ يو روايت کښې هغوئي فرمائي: يو ځل مونږ د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره پهٔ سفر روان وو-

پهٔ تللو تللو چې يو ځائے ته ورسيدو، نو داسې وشو چې بعضې صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم پهٔ اَسونو زغلولو ډير وړاندې لاړل او بعضې وروستو پاتې شول- زهٔ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره پهٔ خوا خوا کښې روان ووم- پهٔ دې باندې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **يَا مُعَاذُ! اَيْنَ السَّابِقُوْنَ** اے مُعَاذه! مخکښې تلونکي چرته دي؟ ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بعضې مخکښې تلي دي، بعضې وروستو راروان دي- رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: **يَا مُعَاذُ! اِنَّ السَّابِقِيْنَ الَّذِيْنَ يَسْتَهْتَرُوْنَ بِذِكْرِ اللهِ** يعنې اے مُعَاذه! (پهٔ حقيقت کښې) مخکښې تلونکي خو هغه دي کوم چې د ذِکرُ الله ډير شوق لري- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** غور اوکړئ چې څومره د سبق نه ډک روايت دے- پهٔ دې کښې د رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تربيت انداز ته هم وګورئ!

---

1 ... جَامِعُ العُلُوْم والحِكَم، صفحه:451-

پهٔ اَسونو باندې ناست صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم پهٔ اَسونو زغلولو وړاندې لاړل، اوس دا بالکل عامه شان معامله وه، دلته هم داسې روزانه کیږي، هم دغه شان کیږي، مونږ عام طور ګاډے چلوو، که نهٔ یـې چلوو نو پهٔ ګاډو کښې خو سفر کوو، پهٔ سړک باندې څومره ګاډي وي، مونږ ښه پهٔ قلار روان یو، ګاډے مو پهٔ خوا یو شغ اوکړي او تیر شي- خبره پهٔ ظاهره ډیره معمولي شان ده خو محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا پهٔ ظاهره معمولي خبره هم د اخرت د فِکر طرف ته وګرځوله، د حضرت مُعَاذ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ او د هغوئي پهٔ وسیله یـې زمونږ د ګنهګارانو هم تربیت اوکړو چې اے مُعَاذه---!! لکه څنګه چې نن دا خلق پهٔ اَسونو زغلولو وړاندې لاړل، اوس پهٔ نظر هم نهٔ راځي، د قیامت پهٔ ورځ به هم داسې کیږي، ډیر خلق به وي کوم چې به پهٔ دومره تیزیَ سره د نورو نه ډیر مخکښې لاړ شي او زر به جَنَّت ته ورسیږي، دا پهٔ حقیقت کښې مخکښې تلونکي دي او دا شان به د هٰغه خوش قِسمتو وي کوم چې د ذِکرُ الله ډیر شوق لرونکي دي- سُبۡحٰنَ اللّٰه---!!

## مونږ او زمونږ شوق

زمونږ پهٔ شان د عامو خلقو یوه نفسیاتي مسئله ده، مونږ خلق ریس ډیر لګوو، پهٔ عربیَ کښې دې ته مُسَابَقَه وئیلے کیږي یعنې د یو بل نه د مخکښې کیدو کوشش کول-

تاسو پهٔ معاشره باندې غور اوکړئ چې یو قِسم له د مخکښې کیدو رَیس لګیدلے دے ❖ فلانکي ګران موبائل واخستو، زهٔ به هم ګران موبائل اخلم ❖ فلانکي د 5 زره روپو والا جامې اغوستې دي، زهٔ به د 10 زره والا اغوندم ❖ فلانکي دوه منزله کور

جوړ کړو، زۀ به ځلور منزله جوړووم ❖ فلانکي يو کاډے واخستو، زۀ به دوه اخلم ❖ فلانکي يو کاروبار شروع کړو، زۀ به پۀ ځلورو ځايونو کښې شروع کووم، داسې د يو بل نه مخکښې کيدو يو رَيس پۀ خوښه يا پۀ نا خوښه روان دے- مونږ د يو بل نه د مخکښې کيدو پۀ کوشش کښې يو-

خو پۀ حديثِ پاک باندې غور اوکړئ چې پۀ حقيقت کښې مخکښې کيدونکے، د نورو نه سبقت وړونکے څوک دے؟ فرمائي: يَا مُعَاذُ! اِنَّ السَّابِقِيْنَ الَّذِيْنَ يَسْتَهْتَرُوْنَ بِذِكْرِ اللهِ يعنې اے مُعَاذه! (پۀ حقيقت کښې) مخکښې کيدونکي خو هغه دي کوم چې د ذِکرُ الله ډير شوق لري- (1)

کاش چې زمونږ پۀ دې معامله کښې واقعي چې د نورو نه د مخکښې کيدو سعادت نصيب شي-

## د شعبان مياشت " د نوي عملي کال" مياشت

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شعبان شريف تشريف راوړے دے، ډيره د فضيلت والا مياشت ده، د دې مياشت د فضيلت نه قربان شم! چې محبوبِ رحمان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې مقدسې مياشت ته خپله مياشت فرمائيلې ده، اِرشاد دے: شَعْبَانُ شَهْرِيْ وَ رَمْضَانُ شَهْرُ اللهِ **يعنې شعبان زما مياشت ده او رمضان د الله پاک مياشت ده-** (2) خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!

---

1... جَامِعُ العُلُوْم والحِکَم، صفحه:451-

2...تاريخ دمشق، جلد:72، صفحه:155-

د **شعبان شريف** د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې پۀ دې مياشت کښې د **نوو اعمال نامو** شروع کيږي-

دلته د نوي کال د شروع کيدو مختلف اندازونه دي، لکه: ❖ نوے اِسلامي کال د **مُحَرَّم شريف** نه شروع کيږي ❖ نوے عيسوي کال د **جنورۍ** نه شروع کيږي ❖ داسې د نوي تعليمي کال د شروع کيدو مياشت بله ده ❖ د نوي معاشي کال شروع کيدو مياشت جُدا ده ❖ دغه شان دا وګڼئ چې **شعبان شريف** هُغه مياشت ده، د کومې پۀ 15 تاريخ چې زمونږ د اعمال نامو نوے کال شروع کيږي، د روايتونو مطابق پۀ 14 **شعبان شريف** د ماښام د وخت نه مخکښې اعمال نامې راغونډولے شي او د راتلونکي کال اعمال نامې شروع کولے شي- (1)

يعني د تير کال چې کومې اعمال نامې دي، د هغې د پاره زمونږ سره بس يو څو ورځې پاتې دي، بيا به دا اعمال نامې راغونډې کړے شي- اوس لکه چې پۀ ډير شوق او ذوق سره د مخکښې کيدونکو اخرۍ ورځې دي، لرې ورځې دي مونږ له پکار دي چې پۀ نيکو کښې د نورو نه د مخکښې کيدو پوره کوشش اوکړو- او د دې طريقه به څۀ وي---؟

خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ السَّابِقِيْنَ الَّذِيْنَ يَسْتَهْتَرُوْنَ بِذِكْرِ اللهِ مخکښې کيدونکي خو هغه دي کوم چې د ذِکرُ الله ډير شوق لري- (2)

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي چې د زياتو د نه زيات ذِکرُ الله کولو

---

1...التيسير فی التفسير، پارہ:25، سورۂ دخان، زير آيت:4، جز:13، صفحہ:317-

2... جَامِعُ العُلُوْم والحِکَم ، صفحہ:451-

سعادت حاصل کړو! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زمونږه اعمال نامه به د نیکو نه ډکه شي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د ذِکرُ الله ډېر فضیلتونه دي، دومره فضیلتونه دي چې مونږ اندازه نشو لګولے، یو څو آیتونه مبارک او څه حدیثونه مبارک واورویٔ!

## پهٔ کثرت سره د ذِکر کولو قُرآني حُکم

الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ (پاره:22، سورهٔ احزاب:41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! الله ډېر زیات یادویٔ- |

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د الله ذِکر پهٔ دومره کثرت سره کویٔ چې خلق تاسو ته لیوني ووائي- (1)

## د ذِکر او د درود یو خاصیت

سُبْحٰنَ الله! د دې آیت مبارک نه معلومه شوه چې مونږ له د الله پاک ذِکر کول دي او څومره کول دي---؟ پهٔ کثرت سره کول دي-

پهٔ دې خبره باندې ځان پوهه کول دي، ذِکر او درود هغه دوه عبادتونه دي د کومو چې الله پاک حُکم کړے، د دې د کثرت کولو یې وفرمائیل، تاسو وګورئ چې ❖ نمونځ

1...مسند احمد، جلد:5، صفحه:189، حدیث:11971-

فرض دے خو پۀ ورځ کښې 5 ځله، د هر يو نـمونځ بيل وخت مقرر دے ❖ روژه د پيښمنې نه شروع کيږي او پۀ روژه ماتې باندې مکمل کيږي ❖ حج صرف پۀ ذُو الـحج شريف کښې ادا کيږي ❖ د زکوٰة هم مقدار مقرر دے خو ذِکر هُغه عبادت دے د کوم چې وخت هم مقرر نۀ دے او مقدار يـې هم مقرر نۀ دے بلکې فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ (پاره:22، سورۀ احزاب:41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! الله ډير زيات يادوئ- |

دغه شان چې کله د درود او سلام نمبر راغلو نو نۀ د وخت قيد او نۀ مقدار مقرر شو بلکې فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پاره:12، سورۀ احزاب:56) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! پۀ هغوئي باندې درود او ډير سلام اوليږئ- |

## خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ کثرت سره ذِکر کولو

د مسلمانانو خوږه مور جانه سيده عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ أَحْيَانِهِ يعنې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ هر حال کښې د الله ذِکر کولو-(1)

---

1 ... بخاري، کتاب الاذان، باب هل يتتبع المؤذن فاه...الخ، صفحه:221-

سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلې شان دے- په ودریدو ذِکر، په کیناستو ذِکر، په ګرځیدو ذِکر، په راتللو ذِکر، په تللو ذِکر غرض د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې په هر حال کښې به يـې د الله پاک ذِکر کولو-

کاش چې زمونږ هم دا سعادت نصيب شي، مونږ هم بس! د الله ذِکر کوو، هر وخت د الله ذِکر کوو، تل د الله ذِکر کوو---!!

## د الله د ذِکر نه خالي ګړئ بے کاره دي

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ یَذْکُرِ اللهَ فِیهِ کَانَتْ عَلَیْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ

ترجمه: څوک چې چرته کښيني او په خپل مجلس کښې ذِکرُ الله اونکړي، د هغۀ هٰغه ناسته بيکاره ده-

وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا لَا یَذْکُرُ اللهَ فِیهِ کَانَتْ عَلَیْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ

ترجمه: څوک چې په بستره سملي او د الله پاک ذِکر اونکړي، د هغۀ ملاسته بيکاره ده-(1)

وَمَا مَشٰی اَحَدٌ مَمْشًی لَا یَذْکُرُ اللهَ فِیهِ اِلَّا کَانَتْ عَلَیْهِ مَنَ اللهِ تِرَةٌ

ترجمه: او څوک چې په لاره ځي، په هغې کښې د الله پاک ذِکر اونکړي، د هغۀ تلل هم بيکاره دي- (2)

---

1... ابو داود، کتاب الادب، باب کراهية ان يقوم الرجل...الخ، صفحه:762، حديث:4856-

2... ابن حبان، کتاب الرقائق، باب ذکر استحباب الذکر لله...الخ، صفحه:336، حديث:853-

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې اِنسان ناست وي نو بیا هم د الله پاک ذِکر کوي، چې ګرځي نو بیا هم ذِکر کوي، چې پاڅي نو بیا هم ذِکر کوي، چې سملي نو بیا هم ذِکر کوي، بس په هر حالت کښې د الله پاک ذِکر کول د مؤمِن بنده شان دے۔

## یو بے بها نصیحت

یو ځل د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ حاضر شو او عرض یې اوکړو: اِنَّ شَرَائِعَ الْاِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ یعني یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بے شکه چې د اِسلام حکمونه په ما باندې زیات شو، څۀ داسې عمل راته اِرشاد کړئ! چې زۀ یې مضبوط ونیسم۔ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِّنْ ذِكْرِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ یعني ستا ژبه دې همیشه د الله پاک په ذِکر باندې لـمده وي۔ (1)

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاک په شرح کښې فرمائي: غالباً چې د سائِل (یعني د پوښتنه کوونکي صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ) پوښتنه د نفلونو په باره کښې وه (چې یا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نفلي عبادتونه ډیر زیات دي، په دې کښې راته څۀ یو عبادت وښایئ چې زۀ یې مضبوط ونیسم)، په دې باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا جواب ورکړو، مقصد دا دے چې هر

1... ابن ماجہ، کتاب الادب، باب فضل الذکر، صفحہ:608، حدیث:3793۔

وخت دې پهٔ ژبه باندې د الله ذِکر جاري وي- الله پاک دې داسې ژوند رانصيب کړي-

(1) اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## تهٔ زما ذِکر کوه! زهٔ به ستا ذِکر کووم

پهٔ دويمه سيپاره، سورهٔ بقره، آيت: 152 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَاذْكُرُوْنِیْۤ اَذْكُرْكُمْ (پاره:2، سورهٔ بقره:152) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو تاسو ما ياد کړئ، زهٔ به تاسو ياد کړم- |

پهٔ تفسير نعيمي کښې دي: د دې آيت مبارک خُلاصه دا ده ❖ چې اے خلقو! زما ذِکر کوئ! د دې نتيجه به څهٔ وي چې پهٔ عالَم کښې به ستاسو چرچې کيږي ❖ تاسو ما پهٔ اطاعت سره ياد کړئ، زهٔ به تاسو پهٔ رحمت سره ياد کړم ❖ تاسو ما پهٔ دُعا سره ياد کړئ، زهٔ به تاسو پهٔ عطا سره ياد کړم ❖ تاسو ما پهٔ حمد او ثنا سره ياد کړئ، زهٔ به تاسو پهٔ نعمت سره ياد کړم ❖ تاسو ما پهٔ دُنيا کښې ياد کړئ، زهٔ به تاسو پهٔ اخرت کښې ياد کړم ❖ تاسو ما پهٔ خوشحالۍ او پهٔ ارام کښې ياد کړئ، زهٔ به تاسو پهٔ مصيبت او افت کښې ياد کړم ❖ تاسو ما پهٔ مجاهدې (يعني پهٔ نيکو کښې د کوشش) سره ياد کړئ، زهٔ به تاسو پهٔ هدايت سره ياد کړم ❖ اے خلقو! تاسو ووايئ! يَا رَبِّيْ (اے زما ربه)، زهٔ به ووايم: عَبدِي (اے زما بنده) ❖ تاسو ووايئ: زهٔ ګنهګار يم، زهٔ به ووايم: زهٔ غَفَّار (يعني ډير بخښونکے)

---

1... مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:321-

یم- [1] پهٔ حدیثِ قُدسي کښې دي، الله پاک اِرشاد فرمائي: بنده زما ذِکر کوي، زهٔ د هغهٔ سره یم، که هغه پهٔ زړهٔ کښې ما یادوي، زهٔ هغه هُم ځانله یادووم، که هغه ما پهٔ ګڼه کښې یادوي زهٔ د هغې نه پهٔ بهتره ګڼه (یعني د فرښتو پهٔ مخکښې) یادووم- [2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور اوکړئ چې د الله ذِکر څومره عظیم عبادت دے چې څوک د الله پاک ذِکر کوي، الله پاک د خپل شان مطابق د هغهٔ ذِکر فرمائي-

## د اُمت مسلمه خصوصي شان

علامه قشیري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه لیکلي دي چې یو ځل حضرت جبرائیلِ امین عَلَيۡهِ السَّلَام بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! الله پاک فرمائي: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږ ستاسو اُمت ته هغه فضیلت عطا کړو کوم چې د دې نه مخکښې یو اُمت ته نهٔ دے عطا کړے شوے-

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے جبرائیله! هغه کوم فضیلت دے؟ عرض یې اوکړو: د الله پاک دا فرمان : [3]

| | |
|---|---|
| فَاذۡکُرُوۡنِیۡۤ اَذۡکُرۡکُمۡ (پاره:2، سورۂ بقره:152) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو تاسو ما یاد کړئ، زهٔ به تاسو یاد کړم- |

1 ... تفسیر نعیمی، پاره:2، سورۂ بقره، زیرِ آیت:152، جلد:2، صفحہ:72-
2 ... بخاری، کتاب التوحید، باب قول الله تعالیٰ ویحذرکم الله نفسه ، صفحہ:1787، حدیث:7405.
3 ...رسالہ قشیریہ، باب ذکر، صفحہ:258-

یعنې دا فضیلت مخکښې یو اُمت ته هم نهٔ دے عطا کړے شوے چې هغوئي د الله پاک ذِکر اوکړي نو الله پاک د هغوئي ذِکر وفرمائي، دا صرف او صرف د اُمت مسلمه شان دے چې مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان د الله ذِکر کوو نو الله پاک زمونږ ذِکر فرمائي۔

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** هسې خو د ذِکرُ الله بے شمیره فضیلتونه دي، خو د یو ساعت د پاره لږ غور اوکړئ چې فرض کړئ که د الله د ذِکر نور څهٔ فضیلت نهٔ وو نو هم دا یو فضیلت څومره لوئي دے--!! چې څوک چې د الله پاک ذِکر کوي، الله پاک د هغهٔ ذِکر فرمائي۔

## اوس مخلوق فرید فرید کوي

پیر مهر علي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې د اوچتې مرتبې عالِمِ دِین، سید او ډیر لوئي ولئ کامِل دے، هغوئي به هر کال د بابا فرید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار ته حاضري کوله، یو ځل هغوئي پاکپتن ته تشریف یوړلو نو یو خرابې عقیدې والا ترینه پوښتنه اوکړه: تاسو عالِمِ دِین یــې، تاسو هم مزارونو له ځئ؟ پیر مهر علي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائیل: زهٔ دلته د قرآني آیت تفسیر پهٔ سترګو د لیدلو د پاره راځم۔ هغه د خرابې عقیدې والا ترینه پهٔ حیرانتیا سره پوښتنه اوکړه: د کوم یو آیت تفسیر؟ اوئې فرمائیل: د الله پاک فرمان دے:

| | |
|---|---|
| فَاذْكُرُوْنِیْۤ اَذْكُرْكُمْ (پاره:2، سورۂ بقره:152) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو تاسو ما یاد کړئ، زهٔ به تاسو یاد کړم۔ |

بابا فرید رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه هستي ده، چا چې ټول عمر د الله پاک پهٔ ذِکر کولو تیر

کړے، اوس زۀ د دې لیدو د پاره راغلم چې واقعي دۀ هغوئي چرچاکیږې ، **هغوئي به د الله پاک ذِکر کولو، اوس مخلوق فرید فرید کوي-** (1)

## پۀ غافل باندې شیطان مقررولے شي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ یَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَیِّضْ لَهٗ شَیْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِیْنٌ ﴿۳۶﴾ (پاره:25، سورۀ زخرف:36) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د رحمان د ذِکر نه مخ واړوي نو مونږه پۀ هغۀ یو شیطان مقرر کړو نو هغه د هغۀ سره ملګرے اوسي- |

د الله پاک اخري نبي، رسول هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د شیطان خرطم د اِنسان پۀ زړۀ باندې دے، کله چې بنده د الله پاک ذِکر کوي نو هغه خرطم لرې کوي او کله چې اِنسان د ذِکرُ الله نه غافله شي نو شیطان د هغۀد زړۀ نه نمرې جوړه کړي(یعني وسوسې وراچول شروع)- (2)

## پۀ سَرونو باندې یـې تور کارغان ناست وو

منقول دي، چې یو مسلمان پیرے د حضرت اِمام ابو القاسِم قشیري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دوست وو، یوه ورځ دوي دواړه پۀ جومات کښې ناست وو او خلق هم موجود وو، مسلمان پیري

1... مهر منیر، صفحه:430، 431 خلاصة-

2... مسند ابی یعلیٰ، جلد:3، صفحه:376، حدیث:4301-

ووئيل: تاسو ته څۀ پۀ نظر راځي؟ اِمام قشيري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه وفرمائيل: آؤ! دا خلق ناست دي، ما ته پۀ نظر راځي- پيري ووئيل: د دې نه علاوه نورڅۀ پۀ نظر نۀ درځي؟ اوئې فرمائيل: نه- بيا مسلمان پيري د هغوئي پۀ سترګو باندې لاس کيښودو، بيا يې لرې کړو او اوئې وئيل: اوس وګورئ! اِمام ابو القاسِم قشيري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه چې خلقو ته وکتل نو څۀ ګوري چې د خلقو پۀ سرونو باندې تور کارغان ناست دي، د دغه کارغانو ويښتنه اوږدۀ اوږدۀ دي او دې ويښتو چا مخونه پټ کړي دي، د چا د سترګو پورې ، د چا د تندي پورې دي- اِمام قشيري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه چې دا عجيبه منظر وليدو نو پۀ حيرانتيا سره يې پوښتنه اوکړه: دا څۀ معامله ده؟ د هغوئي پيري دوست هم دا آيت ولوستو:

| | |
|---|---|
| وَ مَنۡ يَّعۡشُ عَنۡ ذِكۡرِ الرَّحۡمٰنِ نُقَيِّضۡ لَهٗ شَيۡطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيۡنٌ ﴿۳۶﴾<br>(پاره:25، سورۂ زخرف:36) | [مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: او څوک چې د رحمان د ذِکر نه مخ واړوي نو مونږه پۀ هغۀ يو شيطان مقرر کړو نو هغه د هغۀ سره ملګرے اوسي- |

او اوئې وئيل: دا هم هغه شيطانان دي کوم چې پۀ دوئي باندې مسلط کړے شوي دي- پۀ دوئي کښې چې څوک غافِل وي، د هغۀ پۀ سَر باندې شيطان د کارغه پۀ شکل کښې کښيني، کله چې هغه ذِکر کوي نو شيطان لرې کيږي- (1)

| | |
|---|---|
| ذکرو درود ہر گھڑی وردِ زباں رہے | میری فضول گوئی کی عادت نکال دو |

الله پاک دې زمونږه د غفلت نه نجات نصيب کړي- کاش چې مونږ هر ساعت پۀ ذِکر او

1... سبع سنابل، صفحہ:253-

فِکر کښې مصروف اوسيدونکے نصيب شي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د ډير عظمت والا څوک---؟

حضرت سَهل بن مُعَاذ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خپل والِد صاحب نه روايت کوي: يو ځل د نُور محفل راجوړ شوے وو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم هم حاضر وو، يو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په جهاد کوونکو کښې د ټولو نه زيات عظمت والا څوک دے؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْراً يعنې څوک چې د الله پاک ذِکر په کثرت سره کوي، هغه د زيات عظمت والا دے- صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دويمه پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په روژه دارو کښې زيات عظمت والا څوک دے؟ (مثلاً 100 کسان دي او 100 واړو روژه نيولې ده نو په دوئي کښې د زيات عظمت والا څوک دے؟) خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْراً يعنې څوک چې د الله پاک ذِکر په کثرت سره کوي، هغه د زيات عظمت والا دے-

حضرت سَهل بن مُعَاذ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي چې هُغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ داسې پوښتنې کولې، مثلاً يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په نمونځ ګزارو کښې زيات عظمت والا څوک دے؟ په زکوٰة ورکونکو کښې زيات عظمت والا څوک دے؟ داسې يې د يو يو عبادت په باره کښې پوښتنه کوله، او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هُغه ټولو

پوښتنو هُم یو جواب ارشاد فرمائي: اَكۡثَرُهُمۡ لِلّٰهِ ذِكۡرًا ، اَكۡثَرُهُمۡ لِلّٰهِ ذِكۡرًا یعنې څوک چې د الله پاک ذِکر په کثرت سره کوي، هغه د زیات عظمت والا دے، یعنې څوک چې د الله پاک ذِکر په کثرت سره کوي، هغه د زیات عظمت والا دے۔

د مسلمانانو وړومبے خلیفه، حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ حاضر وو، هغوئي د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په مخاطَب کولو ووئیل: اے عمره! داسې خو ذِکرُ الله کوونکي ټولې نیکۍ یوړلې---! خوږ آقا، اِمامُ الانبیا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اَجَل آؤ! (یعنې اے ابو بکره! خبره هم داسې ده، څوک چې د ذِکرُ الله کثرت کوي، هغه هم ټولې نیکۍ راټولوي)۔ [1]

## زر میلاؤیدونکے افضل غنیمت

د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: یو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو لښکر د جنګ د پاره ولیږلو، بیا دا صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم د غزوه د پاره لاړل او ډیر زر په فتح موندلو د ډیر مالِ غنیمت سره واپس راغلل۔

د دوئي په لیدو یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ ووئیل: مونږ د دوئي نه زر واپس کیدونکے لښکر بل نهٔ دے لیدلے، د دې نه افضل غنیمت مو هیڅ اونهٔ لیدو۔ په دې باندې رسولِ رحمت، شفیعِ اُمت صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: آیا زهٔ تاسو ته د دې نه هم افضل غنیمت او د زر واپس کیدونکو په باره کښې اونهٔ وایم؟ هُغه قوم چې د سحر په نمونځ کښې حاضر شي، بیا

---

1 ... معجم کبیر، جلد:8، صفحه:481، حدیث:16812۔

هم هلته کښيني او د الله پاک ذِکر کوي، د دې پورې چې نمر راوخيژي، دا خلق د ټولو نه زيات زر واپس کيدونکي، د افضل غنيمت والا دي۔ (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې د الله د ذِکر څنګه څنګه فضيلتونه دي۔ کاش چې زمونږ هم د ذِکرُ الله کثرت کول نصيب شي۔

## د الله د ذِکر 40 فائدې

پۀ کتابونو کښې ليکلے شوي دي چې: ❖ د الله د ذکر پۀ برکت سره الله پاک راضي کيږي ❖ د الله ذکر شيطان تښتوي او د هغۀ نه نجات حاصلوي ❖ د الله ذکر فِکر او غم لرې کوي ❖ د الله ذکر پۀ زړۀ کښې خوشحالي او سرور زياتوي ❖ زړۀ او وجود مضبوطوي ❖ زړۀ د غفلت نه رابيداروي ❖ پۀ زړۀ کښې د الله پاک محبت زياتوي ❖ د زړۀ نه هر قسمه ويره لرې کوي ❖ د الله ذکر مخ پړقوي او زړۀ روښانه کوي ❖ نسيان يعني د هيرې بيمارۍ نه بچ کول کوي ❖ دروغ ،غيبت او چغلۍ وغيره نه بچ کول کوي ❖ د الله پاک قُرب نصيب کيږي ❖ د الله د ذکر پۀ برکت سره سکينه نازليږي ❖ رحمت او د فرښتو قرب نصيب کيږي ❖ د الله ذکر د ارمان نه بچ کول کوي ❖ د قيامت پۀ ورځ د الله پاک د عرش سورے ورکوي ❖ پۀ دنيا کښې ❖ پۀ قبر کښې ❖ او په پلِ صراط باندې نور ورکوي ❖ د الله ذکر انسان محبوب بنده جوړوي ❖ د الله د ذکر پۀ برکت سره رزق زياتيږي ❖ د دې پۀ برکت سره معرفت ميلاويږي ❖ ګناهونه ختميږي ❖ د عذاب نه نجات

---

1 ... ترمذی، کتاب احادیث شتی، صفحہ:814، حدیث:3561۔

ميلاويږي❖وحشت لرې کيږي❖د مشکل وقت نه نجات ميلاويږي❖ دعاګانې قبليږي ❖ حاجتونه پوره کيږي ❖د نفاق نه نجات ميلاويږي❖روحاني خوند حاصليږي❖د الله ذکر اسانه نيکي ده ❖د الله ذکر د نيکو کولو باندې مددګار دے❖د الله ذکر افضل عبادت دے❖د الله د ذکر سره د زړۀ سختي لرې کيږي ❖ د الله ذکر د باطني بيماريانو علاج دے❖د الله د ذکر کولو والو دپاره فرښتې د مغفرت دعاګانې کوي❖د الله ذکر د بنده او جهنم په مينځ کښې پرده ده ❖ د ذِکرُ الله په برکت سره په جَنَّت کښې ونې نالولے کيږي ❖په کوم مجلس کښې چې د الله ذکر وي هغه په دنيا کښې د جنت باغ دے - (1)

## د الله د ذِکر مختلف قِسمونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د الله د ذِکر ډير قِسمونه دي ❖ مثلاً د قرآنِ کريم تلاوت کول هم ذِکر دے ❖ د الله پاک ښکلي پاک نومونه په ژبه باندې ادا کول ❖ الله الله وئيل ❖ د يَارَحْمٰنُ،يَارَحْمٰنُ تسبيح کول ❖ ياغفّارُ،ياغفّارُ،يَا سَمِيْعُ،يَاسَمِيْعُ وئيل، دا ټول د الله پاک ذِکرونه دي ❖ هم داسې د الله پاک په نعمتونو کښې غور او فِکر کول هم ذِکر دے ❖ الله پاک دُنيا جوړه کړې ❖ د دې دُنيا عجائباتو ته کتل ❖ د دې په ذريعه د الله پاک د شان او د عظمت او د قُدرت په باره کښې غور کول، دا د سترګو ذِکر دے ❖ د الله ذِکر اوريدل د غوږونو ذِکر دے ❖ د زړۀ نه د الله پاک په ياد کښې مصروفه کيدل د زړۀ ذِکر دے ❖ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت وئيل او اوريدل هم ذِکر دے ❖ د الله پاک د محبوبو بندګانو خبرې کول ❖ د هغوئي ذِکرِ خير کول او

1 ... نضرة النعيم، باب الذكر، جلد:5، صفحه:2010-2013 ملتقطًا ملخصًا-

اوریدل ❖ د هغوئي سیرت لوستل دا هم ذِکر دے -

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه فرمائي: ذِکرُ الله با لواسطه هم کیږي او بِلا واسطه هم ❖ د الله پاک د ذات او د صفتونو ذِکر کول یا د هغې سوچ کول بِلا واسطه ذِکرُ الله دے ❖ د هغهٔ د محبوبانو د محبت چرچې کول ، د هغهٔ د دښمنانو بد بیانول، ټول بِالواسطه د الله ذکرونه دي، وګورئ چې ټول قرآنِ کریم د الله ذِکر دے ولې چې پهٔ دې کښې چرته خو د الله پاک د ذات او د صفتونو ذِکر دے، چرته د حضورِ پر نُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه او محامِد، چرته د کافرانو خبرې- [1] او د قرآنِ کریم تِلاوت بهترین ذِکر دے، معلومه شوه چې دا ټولې خبرې پهٔ ذِکر کښې داخلې دي-

## د الله د ذِکرعادت څنګه جوړیدےشي؟

یو ځل د الله پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام د الله پاک پهٔ بارګاه کښې عرض اوکړو: یا الله پاکه! زهٔ داسې عبادت کول غواړم پهٔ کوم کښې چې خواري وي- الله پاک وفرمائیل: اے موسیٰ! پهٔ تیز اواز زما ذِکر کوه-

بیا حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام خو د الله پاک نبي دے، هغوئي چې کله د الله پاک ذِکر اوکړو نو خواري خو څهٔ وه چې هغوئي له یې ډیر خوند ورکړو، هغوئي چې پهٔ دویمه ورځ ذِکر اوکړو نو د وړومبۍ ورځې نه یې هم زیاته مزه ورکړه، داسې به چې کله هغوئي ورو ورو ذِکر کولو، خوند به یې نور هم زیاتیدو، هغوئي د الله پاک پهٔ بارګاه کښې عرض اوکړو:

1... مرآة المناجیح، جلد:3، صفحه:304 ملتقطاً-

یا الله پاکه! ما خو داسې عبادت غوښتو پهٔ کوم کښې چې خواري وي، ستا پهٔ ذِکر کښې خو ډېره مزه ده- الله پاک وفرمائیل: موسیٰ! دا خو پهٔ تا باندې زما مهرباني ده چې تاسو له زما ذِکر خوند درکوي، کنې نو فرعون ته وګوره! هغهٔ خپل تاج او تخت، قوت او سلطنت هر څهٔ برباد کړهٔ، پهٔ دریاب کښې غرق کیدل خو یـې منظور کړهٔ خو یو ځل یــې هم زما نوم پهٔ ژبه باندې راوستل مناسب اونهٔ ګڼل- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې که یو خوا د الله د ذِکر ډېر فضیلتونه دي نو بل خوا د دې سره سره ذِکرُ الله د خوارئ نه ډک عبادت هم دے، که مونږ د ذِکرُ الله عادت جوړول غواړو نو د دې د پاره به مونږ ته هم ډېر څهٔ پرېښودل وي ❖ د فضول خبرو نه به ژبه منع کول وي ❖ خراب صحبت به پرېښودل وي ❖ کوم خلق چې پان، ګټکا وغیره خوري، هغوئي ته به د پان ګټکې نه نجات حاصلول وي ❖ د سوشل میډیا استعمال به صرف او صرف د ضرورت د پاره کول وي، داسې به د ټولو فضولیاتو قرباني ورکول وي، نو بیا به د ذِکرُ الله طرف ته توجه حاصله شي ، او بیا به چرته مونږ پهٔ ذِکر او فِکر کښې مشغول پاتې کیدے شو-

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د نیکو بے مثاله جذبه لري، یو ځل هغوئي عمامه شریف پهٔ سر ترِله، هغه وخت د هغوئي شوندو حرکت کولو، پهٔ پوښتنه کولو یــې وفرمائیل: زهٔ الله الله وایم، د پاره د دې چې د عمامې ترِلو سره سره ذِکرُ الله هم کیږي- شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ یو ځل پهٔ مَدَني مذاکره کښې

---

1... سبع سنابل، صفحه:260-

وفرمائیل: پان اینتې ذِکر او درود دے (یعنې د پان پهٔ خُله کښې د کیښودو سره ذِکر نشي کیدے)، ځکه زهٔ پان نهٔ خورم-

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د نیکانو بندګانو هم څانګړې اداګانې وي- الله پاک دې مونږ ته هم توفیق راعطا کړي چې مونږ د فضولیاتو نه بچ شو، ژبه د فضول خبرو نه بچ کړو، د پان وغیره عادت که وي نو د هغې نه نجات حاصل کړو او هر وخت پهٔ ذِکرُ الله کښې د مصروفه اوسیدو عادت جوړ کړو-

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه ذِکرِ خیر

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دویم شعبان شریف د اِمامُ الاَئِمه، اِمامِ اعظم اِمام ابو حنیفه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه عُرس مبارک دے، راځئ چې د برکت د پاره د هغوئي ذِکرِ خیر هم واورو:

## د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! سِراجُ الاُمَّه (یعنې د اُمَّت روښانه نـمر)، اِمام الاَئِمَّه (یعنې د اِمامانو اِمام) حضرت اِمامِ اعظم ابو حنیفه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ❖ نوم مبارک نعمان، ❖ د هغوئي د والد صاحب نوم: ثابِت او ❖ کُنیت: ابو حنیفه دے، داسې د هغوئي پوره نوم: ابو حنیفه نعمان بن ثابت دے- اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه پهٔ 70 هجرۍ کښې د عراق پهٔ مشهور ښار کوفه کښې دنیا ته تشریف راوړلو او د 80 کالو پهٔ عمر کښې پهٔ دویم شَعبَانُ الـمُعَظَّم 150

هجرى کښې يـې د دې فاني دُنيا نه سفر اوکړو- د هغوئي مزار مبارک پۀ بغداد شريف کښې دے- (1)

اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه شان بيان کړے دے او ليکلي يـې دي:

| | |
|---|---|
| ہو نائبِ سرورِ دو عالم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ! | سراجِ اُمّت فقیہِ اَفخم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! |
| ہے نام نُعمان ابن ثابِت، ابو حنیفہ ہے ان کی کنیت | پکارتا ہے یہ کہہ کے عالم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ! (2) |

**وضاحت:** اِمامِ اعظم اِمامِ ابو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ علم او حکمت کښې د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نائب دے، د اُمَّت د پاره روښانه نـمر دے، ډير ماهر مفتي او عالِمِ دِين دے-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د هر نـمونځ نه پس دُعا کوئ!

علّامه خطيب تَبرِيزي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: **آئمهِ زُهد** (يعني د تصوف او د طريقت اِمامان) فرمائي: پۀ اهلِ اِسلام باندې لازم دي چې د خپلو نـمونځونو نه پس د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د پاره دُعاګانې کوي ځکه چې اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغه عظيمه هستي ده چا چې د اُمَّت خير خواهي کړې ده او د سُنَّت او د عِلمِ فقه حفاظت يـې فرمائيلے دے- (3)

---

1 ... تاريخِ بغداد، جلد:13، صفحه:331، اشکوں کی برسات، صفحه:2 ملتقطًا-
2 ... وسائل بخشش، صفحه:573-
3 ... الخيرات الحسان، الفصل الثالث عشر، صفحه:46-

## اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تابعي دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږه اِمام، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه تابعي دے يعني هغوئ ❖ د حضرت اَنَس بن مالِک ❖ حضرت عبد الله زُبيدي ❖ حضرت جابِر بن عبد الله ❀ حضرت مَعقَل بن يَسَار رَضِیَاللهُعَنۡهُم وغيره صحابهٔ کرامو رَضِیَاللهُعَنۡهُم زيارت هم کړے دے او پهٔ هغوئ کښې يـې د يو څو نه حديثونه هم اوريدلي دي- (1) او د تابعي څومره ښکلے شان دے؟ د قرآنِ کريم آيت واورئ! الله پاک فرمائي:

وَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَ رَضُوْا عَنْهُ وَ اَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۰۰

(پاره:11، اَلتَّوْبَة:100)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او نور هغه کوم چې نيکۍ سره د هغوئ تابعداري کوونکي دي د هغوئ ټولو نه الله راضي شو او هغوئ د الله نه راضي دي او هغهٔ د هغوئ د پاره باغونه تيار کړي دي د کومو لاندې چې نهرونه بهيږي هميشه هميشه به پهٔ هغې کښې اوسيږي، هُم دا لويه کاميابي ده-

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دې آيت مبارک خلاصه بيان کړې ده او ليکلي يـې دي: يعني اے خوږه محبوبه صَلَّىاللهُعَلَيۡهِ وَاٰلِهٖوَسَلَّم ! ستاسو پهٔ صحابهٔ کرامو رَضِیَاللهُعَنۡهُم کښې راتلونکي مهاجرين او اَنصار او هغه خلق کوم چې د خير سره پهٔ هغوئ پسې روان شي (مثلاً تابعينِ کرام رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم) د هغوئ

1 ... تبيض الصحيفه بمناقب ابی حنيفه، ذکر من ادرکه من الصحابه، صفحه:33 ملتقطًا-

شان دا دے چې الله پاک د هغوئي نه راضي شو او هُغه خلق د الله پاک نه راضي شول (چې الله پاک هغوئي پۀ غريبۍ، مالدارۍ، صحت، بيمارۍ وغيره پۀ کوم حال کښې هُم وساتي، هغوئي د هغۀ نه راضي دي، چرې هم د څۀ څيز شکايت نۀ کوي) الله پاک د هغوئي د پاره داسې جنتونه تيار کړي دي، د کومو د لاندې چې وَلې [يعنې نِهرونه] بهيږي، هغوئي به پۀ دغه جنتونو کښې هميشه هميشه اوسيږي، دا نعمتونه ميلاؤيدل هُم ډيره لويه کاميابي ده-[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د نيکانو صالِحانو تابعينو--!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه اِمامِ اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هُم داسې دے ❖ هغوئي د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ښه پيروي اوکړه ❖ د هغوئي نه يـې عِلمِ دِين زده کړو ❖ د هغوئي پۀ نقشِ سِيرت باندې تللو ❖ د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم نه يـې راهنمائي حاصله کړله او ټول ژوند يـې پۀ عبادت او رياضت او د دِين پۀ خدمت کښې تير کړو ❖ هميشه د الله پاک نه راضي اوسيدلو، کله هم، پۀ هيڅ حالت باندې هغوئي څۀ ګيله اونکړه، بس د رحمان او رحيم رَبّ د رضا طلبګار اوسيدلو، ځکه اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! الله پاک د هغوئي نه راضي دے او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! هغوئي جنّتي دے بلکې که الله پاک وغوښتل نو د هغوئي پۀ وسيله به مونږه ګنهګاران هم اوبخښلے شو-

ہو نائبِ سرورِ دو عالم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ!
سِراجِ اُمّت فقیہِ اَفْخَم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ!

---

1 ... تفسيرِ نعيمی، پاره:11، التوبہ، زيرِ آيت:100، جلد:11، صفحہ:28 بتغير قليل-

جو بے مثال آپ کا ہے تقویٰ، تو بے مثال آپ کا ہے فتویٰ
ہیں علم و تقویٰ کے آپ سنگم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ!( 1 )

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عِلم په اسمان باندې د ځوارلسمې سپوږمۍ

حضرت کَعبُ الاَحبَار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ څوک چې تابعي بزرګ دے، فرمائي: ما په مخکښینو اسماني کتابونو کښې د دې اُمَّت د عالِمانو او فقهاؤ نومونه لوستلي دي، **په هغې کښې د نعمان بن ثابت نومې عالِم ذِکر هم موجود وو،** د هغوئي په باره کښې په مخکښینو اسماني کتابونو کښې لیکلي شوي وو: دا به په خپله زمانه کښې د ټولو عِلم والؤ اِمامِ وي، د دوئي شخصیت به د عِلم په اسمان باندې د څوارلسمې د سپوږمۍ په شان ځلیږي، **خلق به د دوئي په ژوند باندې هم رَشک کوي او د دوئي په وفات باندې به هم رَشک کوي۔** (2)

## د اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بنکلے سیرت

د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خاص شاګرد اِمامِ ابو یوسُف رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: (1): اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به د حرامو کارونو نه همیشه ځان بچ ساتلو (2): د عِلمِ دین نه علاوه به د نورو خبرو کولو نه ویریدلو (3): ډیره زیاته مجاهده (یعنې په نیک کارونو کښې به یې ډیر زیات کوشش) فرمائیلو (4): د دُنیا دارو به یې د هغوئي په مخکښې تعریف نۀ کولو (5): اکثر

---

1... وسائلِ بخشش، صفحہ:573 ملتقطاً۔
2... مناقب اِمامِ اِمامِ اعظم، ص:53۔

به خاموش اوسيدلو **(6)**: په دِيني مسئلو کښې به يـې غور او فِکر کولو **(7)**: ډير ساده او د نرم طبيعت مالِک وو **(8)**: د هغوئي نه چې به چا پوښتنه اوکړه نو په قرآن او حديث کښې به يـې د هغې جواب لټولو **(9)**: په طبيعت مبارک کښې يـې لالچ نهٔ وو **(10)**: او چې د چا ذِکر به هم کيدلو نو د ښې خبرې نه علاوه به يـې هيڅ نهٔ فرمائيل-[(1)]

الله پاک دې زمونږ د اِمام اعظم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فيضان نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: دارُ السنَّه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د عِلم دِين نُور په تقسيمولو، د فرض علومو په ښودلو، بقدر کفايت د دِيني معلوماتو ورکولو، په مختلفو ذريعو سره د عِلم دِين فيضان عام کولو کښې مصروف دے- د دې ديني مقصد د لاندې د دعوت اسلامي په مرکزونو فيضان مدينه کښې يوه شعبه دارُ السنَّه هم ده دا وخت په ټول پاکستان کښې تقريبا 29 دارُ السنَّه قائمې دي -

شعبه دارُ السنه د يو ديني اکيډمۍ په توګه کار کوي❖دلته د اسلامي ورونړو ديني او تنظيمي تربيت کيږي ❖اسلامي ورونړه د خپلې اسانتيا مطابق تشريف راوړي او علم دين حاصلوي❖مختلف سنت او آداب زده کوي❖د دعوتِ اسلامي ديني کارونه (مثلا درس ښکه ورکول دي؟د انفرادي کوشش طريقه څه ده؟ د اجتماع دعوت څنګه ورکول دي د قافلو دپاره اسلامي ورونړه څنګه تيارول دي د دې ټولو او نورو ديني کارونو )تربيت

---

1 ...الخيرات الحسان، الفصل الرابع و العشرون، صفحه:82 ملتقطًا-

حاصلوي ❖ د دارُ السنَّه نه تربيت حاصلوونکي اِسلامي وروڼه نۀ يواځې د قافلو مسافر جوړيږي ❖ بلکې پۀ نورو هم سفر کوونکي جوړيږي- تاسو هم د خپلې اسانۍ مطابق دارُ السنَّه ته وخت ورکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې به درته ډير برکتونه حاصل شي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## بهارِ شريعت (*Bahar e shariyat*) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د جديد ټيکنالوجۍ پۀ ذريعه هم پۀ مختلفو طريقو د نيکۍ پۀ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د *I.T* ډيپارټمنټ له خوا ډير ښکلے، نا اشنا او ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن پۀ نوم د بهارِ شريعت جوړ کړے شوے دے- ❖ د صدر الشريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ډير اعلیٰ کتاب بهارِ شريعت درې واړه جلدونه پۀ دې ايپلي کيشن کښې شامل کړے شوي دي ❖ د دې نه علاوه پۀ بهارِ شريعت کښې شامل د قرآنِ پاک آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لغت د دې ايپلي کيشن حصه ده ❖ تاسو پۀ ايپلي کيشن کښې متن هم لټولے شئ ❖ د سرچ نور ښه کولو د پاره پۀ دې کښې د اُردو د کي بورډ سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې پۀ ايپلي کيشن کښې پۀ لټون کښې اساني وي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين پۀ خدمت کښې مصروف دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❖ د کنزُ

الــمدارس بورډ (*Kanzul Madrasah Board*) په نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❖ په زرګونو جامعات او مدارسُ الــمدينه د هلکانو او جينکو *(Boys & Girls)* ماشومانو د پاره قائم دي، په کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات *(Specialization)*، فرض علوم کورسز کولے شي ❖ د جامعات او مدارسُ الــمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره په لکونو کښې ده ❖ د زيات عمر اِسلامي وروڼو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره په زرګونو مدارس الــمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي په کومو کښې چې د لوستونکو اِسلامي وروڼو او خوئيندو شميره په لکونو کښې ده ❖ د فيضان آن لائن اکيډمي (*Faizan Online Academy*) په ذريعه دِيني تعليم ورکړے کيږي ❖ د دِيني او شرعي لار ښودنې د پاره دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي ❖ د الــمدينةُ العلميه *(Islamic Research Center)* په ذريعه په ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، ❖ د دِيني لټريچر د چاپ کولو د پاره چاپ کوونکي اداره الــمدينةُ العلميه جوړه کړے شوې ده ❖ په ټوله دُنيا کښې د دِيني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظيمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله د د مرکزي مجلسِ شوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار په ښار، کلي په کلي ذمه داران موجود دي ❖ د عاشقانِ رسول په تربيت کولو هغوئي د دِيني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے کيږي، هغوئي ته باقاعده تنخوا ګاني ورکړے کيږي او هغوئي فارِغ البَال (يعني د ګټې وَټې نه په بے پروا کيدو) د دِين خِدمت کوي ❖ د ميډيا په مختلف پليټ فارمز باندې هم د دِين د خِدمت سلسله روانه ده ❖ په پرنټ ميډيا (کښې د ډيرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فيضانِ مدينه د چاپ کولو سلسله جاري ده کومه چې دا وخت د دُنيا په 7 ژبو کښې د ټولو نه زياته چاپ کيدونکي ماهنامه ده) ❖ په

سوشل میډیا (مثلاً، یوټیوب ***(YouTube)***، فیس بُک ***(Facebook)***، انسټا ګرام ***(Instagram)*** وغیره) پهٔ مجموعي توګه باندې ملینز فالورز (***Millions Followers***) دي او د ویوز شمیره پهٔ بلینز (***Billions***) کښې ده ❖ د دې نه علاوه د مَدَني چینل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چینل، د مشرانو د پاره مَدَني چینل او د عربۍ د ویب چینل پهٔ ذریعه د دِین اِسلام خدمت کولے شي۔

**تاسو هم د دِین د خِدمت پهٔ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده یعني ډونیشن پهٔ هر قِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خیر ښیګړې، پهٔ ښو او د امدن زیاتولو پهٔ جائز او محفوظو کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔**

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** یو څو ضروري اِعلانونه واورئ! ❖ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چینل** باندې **لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چینل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس (تقریباً 8:30 بجې) **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم**! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پهٔ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❖ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د

يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به څهٔ چې د خوږ آقا صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ هغه زموږ خوښ رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❖ شعبان شريف هغه مبارکه مياشت ده کومې ته چې نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله مياشت فرمائيلې ده- د دې عظيم نسبت په برکت مکتبة المدينه 2ايمان تازه کوونکې رسالې چاپ کړې دي: (1):آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم کا مہینا(2): فيضان شعبان-

په دې رسالو کښې د شعبان شريف د ❖ فضيلتونو ❖ عبادتونو ❖ نفلونو ❖ د درودِ پاک کثرت ❖ او د ګناهونو نه د بچ کيدو ترغيب ډير په اسان انداز کښې بيان کړے شوے دے- آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم کا مہینا د يوې څانګې نه په 26 روپے او فيضانِ شعبان په 20 روپے په بيعه حاصله کړئ، پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم دعوت ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جَنَّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

## پۀ كور والؤ باندې خرچ كول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1): د قيامت پۀ ورځ باندې به د عمل پۀ تَله باندې د ټولو نه وړومبے د بنده پۀ خپل كور والؤ باندې خرچ كړے شوے مال كيښودے شي-[1](2): څوک چې د ثواب پۀ نيت باندې پۀ خپل كور والؤ باندې خرچ وكړي نو دا د هغۀ د پاره صدقه ده-[2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ خپل كور والؤ باندې خرچ كول د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❖ زمونږه خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ خپل كور والؤ باندې خرچ كول ❖ د حديثِ پاک مطابق د هجرت نه پس يو وخت داسې هم راغلو چې رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل كور والؤ د پاره د ټول كال غَلّه جمع كوله-[3]

د دې حديثِ پاک لاندې د قرآنِ كريم مشهور مفسر، حكيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې كومه شرح بيان كړې ده، د هغې خُلاصه دا ده چې دا يعنې د سركارِ عالي وقار، مكي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول كال د پاره غَلّه جمع كول، د بنو نُضَير د قلعه فتح كولو نه پس خبره ده- دا هم ياد ساتئ چې حضور، جانِ كائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اكثر چې د ټول كاله غَلّه جمع كوله خو د اُمَّت پاكو مئيندو رَضِيَ اللهُ عَنْهُن به پۀ كثرت سره صدقه

---

1... معجم الاوسط ، جلد:4، صفحه: 329، حديث: 6135-
2... مسلم ،كتا ب :الزكاة، صفحه:502، حديث:1002-
3... احياء العلوم، كتاب: توحيد، جلد: 4، صفحه:343-

او خیرات کولو، د ټول کال غَلّه به زر ختمیدله او نوبت به لوږو ته رسیدلو۔ [1]

بھوکے رہتے تھے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابِر تھے مُحَمَّد کے گھرانے والے

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول کال غَلّه جمع کول دې د پاره دي چې دا عمل د اُمَّت په حق کښې سُنَّت جوړ شي، ګڼې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور والا د کمزوري زړهٔ والا نهٔ وو (بلکې هغوئې په الله پاک باندې کامِل باور لرونکې وو)۔ [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (3)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... مرآة المناجِيح، جلد:5، صفحه:949۔
2... احياء العلوم، کتاب: توحيد، جلد: 4، صفحه:343۔
3... وسائلِ بخشش، صفحه:669۔